د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۰۸ مه ګڼه • پنجشنبه • د لیندۍ ۷مه • ۱۳۹۸



۷

# د لغمان مرکز اړوند په تبي کنج سیمه کې د ۱،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک اوبو د درو سولري شبکو د جوړولو چارې پیل شوې



٤

## په میدان وردګو کې ۲۵۰ کورنیو ته د څښاک اوبه چمتو شوې



٦

## د میدان وردګو ولایت په جلریز او سیدآباد ولسوالیو کې دوه د اوبو کاریزونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

# تیره اونۍ په ٤ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو د ودانیو جوړولو کار پیل شو

۷/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروژې تر سیوري لاندې تیره اونۍ د هیواد په ٤ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو د ودانیو جوړولو کار پیل شو.

دا ښوونځي د کندز په خان اباد او دشت ارچي، د هرات په انجیل، د ننگرهار په بهسودو او خوگیانیو، او د کندهار په ارغنداب ولسوالیو کې جوړیږي، دا ښوونځي ۱۰، ۸، یا ٦ ټولگي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه گانې لري.

ددې پروژو په ترڅ کې زرگونه کاري ورځې رامنځ ته شوي چې په بشپړتیا سره به یې نږدې ۲۰۰۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.






# په ننګرهار کې د ۲۰۰ زره افغانیو په ارزښت خوراکي او ناخوراکي توکي پر ۸۷ کورنیو وویشل شول

۵/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د غلو دانو له بانکونو د ننګرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ په خیرمینه، حاجي صاحبانو او مسکین اباد کلیو کې د ۲۰۰ زره افغانیو په ارزښت پر ۸۷ بې وزلیو کورنیو خوراکي او ناخوراکي توکي وویشل شول. دا مرستې د کلیوالو او د ټولنیز مشارکت د وجهې پروګرام (SIG) له خوا ورکړل شوې. چې غنم او د سون لرګي په کې شامل وو.





# په لغمان کې د ۴۰۰ متره ګبیون ډوله دیوال د رغونې چارې روانې دي

۳/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

دلغمان ولایت ددولتشاه ولسوالۍ اړوند دګورګاوتواوشیربکانې ترمنځ د ۴۰۰ متره ګبیون ډوله دیوال درغونې چارې روانې دي ، د لغمان دکلیوبیا رغونې اوپراختیا د ریس انجینرامان الله میاخیل دمعلوماتو له مخې نوموړې پروژه ، دکلیوبیا رغونې اوپراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ اودنړیوال خوراکي سازمان په مالي لګښت د (MCA) قراردادي شرکت له لوري رغول کیږي چې د رغونې چارې یې دغذا په بدل کې د کار په بڼه څه موده وړاندې پیل شوې دي چې په بشپړېدوسره به یې دسیمې کرنیزې ځمکې دسیلابونو له زیانونو څخه وژغورل شي په یاده پروژه کې ۳۰۰ تنوکارګرانوته دکارزمینه برابره شوې ده.



# په میدان وردګو کې ۲۵۰ کورنیو ته د څښاک اوبه چمتو شوې

۵/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، اوبه خور او حفظ الصحې ملي پروګرام له لوري د میدان وردګو د نرخ ولسوالۍ د کډوالو په ښارګوټي کې د اوبو رسولو یوه سولري شبکه بشپړه او ګټې اخستنې ته وسپارل شوه. دا شبکه په ۷ میاشتو کې په دوو پړاوونو کې جوړه شوه. لومړي پړاو چې د لمریزې بریښنا فعالول او د څاه ایستل وو په دریو میاشتو کې بشپړه شوه چې په ترڅ کې یې کارګرانو ته ۲۹٤ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې. په دویم پړاو کې د اوبو زیرمه جوړه شوه او کورونو ته نلونه وغځول شول چې څلور میاشتې وخت یې واخست. ددې شبکې په بشپړتیا سره ۲۵۰ کورنیو ته د څښاک پاکې او صحي اوبه چمتو شوې.



# په میدان وردګو کې د ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه

۷/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د میدان وردګو ولایت د بهسودو ولسوالۍ په زرتال سیمه کې د څه باندې ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه سولري شبکه بشپړه او ګټې اخستنې ته وسپارل شوه. دا شبکه چې په دوو پړاونو کې جوړه شوې ده، دولتي ادارو، ښوونځیو، جوماتونو او د زرتال سیمې بازار ته د څښاک پاکې او صحي اوبه چمتو کوي.

# د لغمان په الیشنګ ولسوالۍ کې به له زرو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشي

۱۳۹۸/لیندۍ/٤

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، د خوراک نړیوال پروګرام(WFP) او د (PRDPO) انجو له لوري به د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالۍ کې له زرو بیوزله کورنیو سره چې د یوې سروې په پایله کې په نښه شوې وې، د خوراکي توکو مرسته وشوه. د لغمان ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رئیس انجنیر امان الله میاخیل په خبره په دې مرستو کې وړه، غوړي، دال، مالګه او نور خوراکي توکي شامل دي.





# د میدان وردگو ولایت په جلریز او سیداباد ولسوالیو کې دوه د اوبو کاریزونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول

۱۳۹۸/لیندۍ/ ٦

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه یز پروگرام له لوري د میدان وردگو ولایت په جلریز او سیداباد ولسوالیو کې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو په موخه دوه کاریزونه تر رغونې او پاکارۍ وروسته گټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د میدان وردگو ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست ریس ښاغلي انجنیر خالد رحماني په وینا د سېدخېلو کاریز د ۱٦۰ متره په اوږد والي، د یوې شاه پاکاري او تر ځمکې لاندې ۵۳،۲۰متره اوږد تونل؛ همدا ډول د زاړو خېلو کاریز بیا د ۲٤٤۱ متره په اوږدوالي او د ۵٤ حلقو څاګانو په پاکولو سره په اساسي بڼه رغول شوي دي؛ چې په راتلونکې کې به له یادو کاریزونو څخه د ۳۵۰ جریبه په شاوخوا کې کرنیزه ځمکه خړوبه شي.



## د لغمان مرکز اړوند په تبې کنج سیمه کې د ۶،۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاك اوبو د درو سولري شبکو د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/لیندۍ/٤

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د ۶،۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د لغمان مرکز اړوند په تبې کنج سیمه کې د څښاك اوبو د درو سولري شبکو د جوړولو چارې پیل شوې. د دې شبکې په جوړېدو سره به د سیمې ۶۰۰ کورنیو د څښاك اوبه برابرې شي.

## انتقال هفت قلم مواد غیرخوراکی برای کمک به خانواده‌های متضرر از آفات طبیعی در پروان

٦ قوس ۱۳۹۸

ریاست انسجام و پاسخ به حوادث وزارت احیا و انکشاف دهات به منظور کمک به خانواده‌هایی که از آفات طبیعی مثل زلزله، سیلاب‌ها، لغزش زمین، برف کوچ، طوفان‌های ریگی و خشکسالی و جنگ و نا امنی متضرر می‌شوند، هفت قلم مواد غیرخوراکی را به ریاست احیا و انکشاف دهات پروان فرستاد.

اجناس کمک شده شامل ۵۰۰ تخته کمپل، ۱۰۰ تخته ترپال، ۱۰۰ دانه گیلاس نکلی، ۱۰۰ دانه کاسه ماست خوری، ۱۰۰ دانه قاشق نکلی، ۱۰۰ دانه پنجه و ۱۰۰ دانه قاب نکلی می‌شود.

